# راز و نياز

**ليکوال: رؤف کلاسرا/ ترجمه :رحمت شاه سائل**

د پاکستان او افغانستان دپاره د امريکې نامزد خصوصي نمائنده رچرډ هالبروک کۀ د سوات د متاثرينو د کېمپونو دوره نۀ وے کړې نو شايد چې هغه به تېره هفته د پاکستان په دفتر خارجه کښې حېران نۀ وے ناست. په دې خبره چې اخر د دنيا ٥٦ اسلامي ملکونه په داسې سخت وخت کښې د پاکستان مدد له ولې رانغلۀ. د دفتر خارجه د خلقو وېنا ده چې هغوي خپله هم چې د هالبروک خبرې واورېدې نو حېران شول، ځکه چې دا د هغوي دپاره د امريکې د يو دغسې عهدېدار يو نوے شکل او انداز ؤ.

د دغې پاکستاني افسرانو په ذهنونو کښې دا سوالونه پېدا کېدل چې يره د يو کامياب ډپلومېټ په شان هالبروک د اداکارۍ په رموزو هم پوهېږي؟ چې هغه خامخا د څۀ مقصد دپاره د سوات د متاثرينو په غم کښې غمژن شوے ؤ، يا واقعي هغه هم يو عام قسم انسان ؤ چې هغه دغو کېمپونو ته لاړو او واړۀ واړۀ معصوم بچې ئې په دغسې اذيتونو او تکليفونو کښې محسوس کړۀ او واقعي د هغۀ په ذهن د دغې کېمپونو د اوسېدونکو د تېرېدونکي قيامت اثرات دغه وخت تازه وو او دا هم کېدے شي چې شايد د هالبروک په ذهن د امريکنيانو د ګناهونو احساس سور يا غالب شوے ؤ چې د هغې په وجه هيلري کلنټن دا اعتراف کړے ؤ چې د طالبانو په پېدا کولو کښې د امريکې خپل لاس شومره ؤ او دا هم کېدے شي چې هالبروک د تنور په شان اور اور تمبوانو کښې دننه د دغو ماشومانو بچو سره په ناسته د خپل شوي جرم د احساس د کمولو يو ناکام کوشش کولو. شايد چې هغۀ ته دا خيال هم راغلے وي چې د دې ځائے نه زرګونه ميله لرې د هغۀ خپل بچي (يا د بچو بچي) شومره پرسکون او محفوظه زندګي تېروي. د يو قسم اودي اسمان لاندې د اوسېدونکو دپاره خدائے هر چا له شومره مختلف تقديرونه ليکلي دي.



هالبروک

د امريکنيانو په خيال خاطر کښې به هم دا نۀ وه چې يوه ورځ به هغه خلق او د هغوي بچي څوک چې هغوي د روسيانو خلاف استعمال کړي وو، هغه به په خپله زمونږ دښمنۍ ته تيارېږي.

د امريکنيانو خيال خو دا ؤ چې څه يره مونږ خو يو لوئے کنټرېکټ د هغه وخت د پاکستان عسکري قيادت ته ورکړے ؤ او د هغې په بدله کښې مو د

ډالرو نه بوجۍ ډکې کړې ورکړې وې. نن د هغې جرنېلانو بچي يعنې نسلونه په خپله ځان ته د ډالر خانانو په نوم اخستو فخر کوي. جنرل ضيا کنټريکټ جماعت اسلامي ته ورانديٍ کړو او دغسې جرنېلانو او جهاديانو په شريکه د هغه کنټريکټ شرائط په ډېره نمک حلالۍ پوره کړۀ خو هېڅ هم بيا په ښېرته دغې ملک او د ملک خلقو ته ور ونۀ کاتۀ چې د هغوي او د هغوي د بچو سره څۀ وشو؟ دلته خو چا ته د ډالرو ضرورت ؤ او چاته د خپلو بچو دپاره د ګرين کارډ ، هم دغسې دغه خلقو د ملک بچي په ګرين کارډ او ډالرو خرڅ کړل، د امريکې د دغې جنګ نتيجه دا راووته چې سوېټ يونين شکست وخوړو، په دنيا کښې د سوړ جنګ خاتمه وشوه، د برلن دېوال وغورځېدو، پنځوس کاله پس هم هغه يورپ چې د هغې قومونو د يو بل مرۍ پرېکړې وې او د يو بل نسل کشۍ ئې کړې وې، هغه دوباره رامتحد شو.

د يورپ قومونه راټول شول او يورپي يونين ئې جوړ کړو او په پوره دنيا ئې د خوب ليدلو اغاز وکړو. د دې نه عجيبه دا وشوه چې امريکه د دنيا يواځينۍ سپرپاور پاتې شوه. ټولې دنيا ته هر څۀ ميلاؤ شو او ښه برخه ئې پکښې ولرله خو د کوئلې په دې دلالۍ کښې زمونږ په قسمت پُونۍ کښې صرف طالبان راووتل. لس کاله د هغو په نوم جهاديانو د امريکې نه ډالرې او ټوپکې وصول کړې، د روسيانو خلاف په افغانستان کښې وجنګېدل او اوس دا خبره عامه کېږي چې اوس د امريکې ټوپکې او ډالرې اخلي او د پاکستان د فوځ خلاف جنګ کوي، د دې نه معلومېږي چې هغه وخت د دغه خلقو سرپرستي امريکې کوله، هغه وخت هم عام افغان وژلے کېدو او نن هم د پاکستان عام افغان مري. هغه وخت د امريکنيانو په دغه جنګ کښې خُلۀ ورو مذهبي مشرانو زمونږ په ذهنونو کښې دا روماني خوابۀ را منډلي وو چې شايد زمونږ پاکستاني مسلمانانو په قسمت کښې ئې د ټولې دنيا فتح ليکلې ده. مونږ داسې ګڼلې وه چې امريکه به اوس مونږ له ټول عمر ډالرې او ټوپکې راکوي او مونږ به په دنيا کښې خپل ښېرغ رپوو. زمونږ د ذهني دېواليه پن اندازه د دې خبرې نه لګولے شئ چې ما د يو جرنېل نه تپوس وکړو، څنګه نو تا چرته په دې سوچ کړے ؤ چې کۀ روس سپرپاور پاتې نۀ شي نو د هغې نه پس به د دنيا شکل و صورت څۀ وي؟ او په دې کښې به د مسلمان ځائے چرته وي، هغه جرنېل صاحب ډېر حېران شو او واپس ئې زمانه تپوس وکړو، وروره د دې څۀ ضرورت ؤ، مونږ خو جهاد کوو او بس. په جهاد کښې سړے په دې خبرو څنګه سوچ کولے شي. ما وخندل او د هغۀ په حضور کښې مې عرض وکړو چې حضور ستا په دې جهاد کښې ټولې دنيا ته فائده ورسېده او ټول نقصان ئې مونږ ته وشو، کوم چې نن يو طرف ته امريکه او بل طرف ته طالبان وهي. ما د هغۀ نه دوېم سوال هم وکړو. جناب کۀ چرې تاسو دا ګڼئ چې د سويټ يونين غوندې به امريکه هم شکست وخوري نو تاسو چرته ناست يئ او په دې مو سوچ کړے دے چې کۀ امريکه هم سپر پاور پاتې نۀ شي نو په دنيا کښې به بيا د مسلمانانو پوزيشن څۀ وي؟ هغه په دوېم ځل بيا ډېر حېران شو چې دا زۀ لا څنګه خبرې کوم، شايد د هالبروک په ذهن کښې به هم دا ټولې خبرې راځي چې نن د هغوي اتحادي پاکستان په ټوله دنيا کښې يواځې شوے دے. نور خو نور دي اوس مسلمانانو

ملکونو هم د پاکستان نه لمن راغونډول شروع کړي دي. اول خو د يوې مياشتې پورې د مسلم دنيا نه يوه کجوره قدرې رانغله چې مونږ د سوات په متاثرينو وېشلې وې، حالانکه مونږ د فلسطين نه واخله د چيچنيا، بوسنيا، آزربائجان او د نورې دنيا د مسلمانانو دپاره په سړکونو ټائرونه لمبه کړي دي او خپل اسمان مو پرې تک تور ساتلې دې او د دوي په سر مو د دنيا د لويو طاقتونو سره دشمنئ کړي دي. د ټولې دنيا نه راغلي جنګجو مسلمانان مو تل په زړونو پورې نيولي دي، هغوي ته مو خپلې لوڼه خوېندې په نکاح کړې وې او نن هم هغوي زمونږ مرئ پرېکوي.

د دېرشو لکو نه زيات خلق نن د هغوي په وجه په سور نمر په خېمو کښې پراته دي او د رچرډ هالبروک په پوهه کښې دا خبره نۀ راځي چې اخر دا مسلمان ملکونه د پاکستانيانو مدد کولو ته په دې دومره مشکل وخت کښې ولې نۀ راځي. تاسو کۀ امريکنيانو او د يورپ خلقو ته هر څومره بد هم ووايئ، کۀ هغوي د لکونو خلقو قاتلان هم وګڼئ خو بيا به هم منئ چې د سوات متاثرينو ته زيات امداد امريکې او د يورپ خلقو ورکړې دے، بلکې د غور خبره دا ده چې هالبروک زمونږه دپاره اوس مسلمان ملکونو ته روان دے، د چا دپاره چې مونږ خپل نسلونه په داؤ لګولي دي. دغه مسلمان ملکونه به د امريکې د يو معمولي سفير په خُلۀ لکونه کروړونه ډالرې زمونږ پاکستانيانو ته ورکړي. خو هغوي مخ په مخ مونږ له يوه ټکه قدرې هم نۀ راکوي. ټول قصور د دغو مسلمان ملکونو هم نۀ دے، ځکه چې اوس هغوي ته هم پته لګېدلې ده چې زمونږ د پېسو وصولولو دپاره پاکستان مونږ په مختلفو کرتبونو تېر باسي، چرته د اېټم بم جوړولو په نوم، نو چرته د زلزله ځپلو د امداد په نوم او کله په افغانستان کښې د خپلې خوښې د حکومت راوستو په نوم. نن د سوات د متاثرينو په نوم سبا له د طالبانو په نوم او دغسې مونږ هتې پرانستې ده او سودا مو خرڅېږي. مونږ هر ځل مارکيټ ته يو نوے پروډکټ راوباسو اول ټوله دنيا د هغې نه ويروو، څوک چې ويرېږي هغوي ډالرې راولېږي او څوک چې ونۀ ويرېږي نو مونږ دغه پروډکټ د هغوي خلاف د استعمال دپاره د فکر اغاز کړو. د ۱۹۸۰ء نه دا ډرامه جاري ده، په اربونو ډالرې مونږ د دنيا نه اخستې دي. ولې غربت او پسماندګي ده چې د بدلون نوم نۀ اخلي. دنيا مونږ له په ډالرو راکولو ستړې شوه. ولې مونږه يو چې بيا بيا ئې غواړو او شرمېږو هم نۀ. کۀ څوک زمونږ نه د دغو ډالرو حساب کتاب وغواړي، نو مونږ د دې دپاسه د هغوي نه د خفګان حق محفوظ ساتو، بلکې خفه کېږو ترې او وايو چې تۀ ګوره دنيا زمونږ په نېت شکمنه ده. د زلزله ځپلو دپاره دنيا مونږ ته دولس اربه ډالرې راکړې وې تر اوسه چا ته هم پته ونۀ لګېده چې دغه پېسه په کومه لاره نو بيا مونږ د دنيا نه ولې ګيله کوو چې دنيا مونږ له نن ولې امداد نۀ راکوي. هالبروک په فارن آفس کښې ناست حېرانئ وړے ؤ چې مسلمان ملکونه زمونږ مدد ولې نۀ کوي، ولې زۀ د هغۀ حېرانئ حېران کړے يم. هالبروک زمونږ دپاره مۀ پرېشانه کېږه، مونږ به ډېر زر داسې يو نوے پروډکټ متعارف کړو چې هغه دنيا ووينې په مخه به راته ډالرې راشروع کړي. مجبوراً!! ■